(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه غشي مي پنځه فـــــــــرض لمونځونه
که ماتېنګ کـــــــړه زه ولاړدیارپـــرننګ یم
دیارننګ مي جـــــــــماعت دپاک رسول ده
مومنان بـــې[101] تېنګــــــــوو زه ناصح لنګ یم
پاک مسجدمي ده پالنګ مـوړباندي ناست یو
پرې بې نه ږدم که هـــرڅوپه صورت ثورنګ یم
که وصــــــلت له یاره غــــواړې لاردغــه ده
که مي تېنګه کـــــــړه دالارباد شاه اورنګ یم
افضل کړی خدای زمـــــــوږدین ترکل ادیانو
که عامــل دشریعت شــــــوم زه خوشرنګ یم
ستادعشق له زخـــــمه سورلکه ســـورګل یم
عاشقان دي واړه ســــــره ، نه چي زه رنګ یم
دوصــــــال طلب لازم پــــرمــــــاغریب ده
دهجران په اوردي سوی خــــــــوارپتنګ یم
هـــــــمراهي دبې دینانـــــوپه کارنــه ده
بــــــهترداچي له بې دینوڅخه پـــرڅنګ یم
که رویت مي پـــه نصیب ستاله جـــمال شي
ځوړند ســــــــربه همېشه لکــه متنګ[102] یــم
دسراج الملت والدین بنــــــه دبدبـــــــه ده
(ملاامیر) دده دوعــــــاګـــوی نه دپرنګ یم

***

کباب کــــــــړی دئ زمــــازړه اوردهجران
دغــــــه اورهــــــجران دیارغواړم تاوان
په عــــــوض کښي وصال غـــواړمه جانانه

---

[101] بې = به يې
[102] متنګ : کمندته وايي ( ظفراللغات ) اوکمند دلومي په معنا دلته له بیت سره سرلګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځني ورک صبرو سکـــــــون دیار پـــــه مینه
همېشه یې اوښـــــــکي ځي تـــر دوه چشمان
بې غمي شي پــــــرحـــــــرامه په دنیاکښې
د فـــــــراق اوښکو ترځـــــــان وګـــــرېوان
دوه جـــــــهانه ځني هېرشي بې دلـــــــبره
سرو مـــــــال کــــــړي صدقه ترخپل جانان
پـــــه کـــــــوڅه دیارولاړېږي نام وننګ وي
مـــــــرتبه یې وي بلنده تـــــــــراســـمان
پـــــه اول کښې محبت بیاګـــــــــمنامي ده
(ملاامیره ) ګــــــمنام شـــــــه که یې پوهان

***

له هـــــــجرانه همېش ژاړم پـــــــه نارو
د یار دید پر مـــــــاشیرین ،تـــــرقند مسرو
درقیب پـــــــه محبوسۍ بـــــه هیڅ بند نه شم
زه محبوس یـــــــــم دخپل یارپـــــــه زولنو
چې یې تــــــوري زلفي بیا پــــرمخ خپري کړي
عـــــــاشقان سینه ســـــــوزان په اند ښښنو
رقیبان یې راتـــــه کښېنول پـــه خنګ کښې
اوس مي ولي پــــــه تکـــــړو[106] پــه سنګ رېزو
بـــــــــدبختي درقیب داوه لـــــــه اوله
چې یې ذات دده پیدا کـــــــــړلـــــــه اورو
بیا یې وکـــــــړتکبر پــــــــــه سجده کښې
پــه کارنــــــــه شــــــــوعبادت دډېر کلو
رقیبان مي دښــــــــمنان دپاک ایـــمان دي
( ملاامیرمحمده ) ځـــــــغله پـــــــه ګامو

---

[106] کټ مټ ولیکل سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا عیبونه بــه ښکاره شي ته نیکبخته که بدبخته
ښــــــــه طاعت وبندګي د پاک الله کـــــړه
له ریا څخه ځــــــــان ســاته ،نفس بدبخته
ســــــــره اورونه دي پــــــه لاس د دښمنانو
ستا طاعت و ســــــــرومال سوځي یک لخته
ستا په ښهرکښې ښه کــــوته په دولت[113] ډکــه
ښغــــــــم نه شي دښمن ستاده په زړه سخته
که ولاړ پــــــــرخپل کـــــــوته وي ترسهاره
اوس بادشاه یې ګــــویاناست یې پرخپل تخته
د تـــــــقوا تیغ پـــــــه لاس ونیسه محکمه
درایله به کي[114] دښمــن ســــــتا تخت وبخته
سرګــــــــــــردانه له خپل نفسه ډېرعالم ده
(ملاامیره) جــهادي شه مې پرېږده ګرم ویخ ته

***

ددنیاکه جستجـــــــوی پردا جـــــهان کــه[115]
که خدای هېروي آخـــــــــرت لره تاوان که
پــــــــرجـــــــهان باندي ژړا دیارلـــه حبه
داژړادمحبت دخـــــــــــدای دوستان که
چي دعشق په تیغ یې غــــــوڅ دزړګي سرشي
دفراق په اوښکو تـــــــرځــــــان وګرېوان که
دصادق عـــــــــاشق ژړاده پخپل ځان کښې
که مخلــــــوق ته شي ظاهــــردځان نقصان که

111 نسه = نیسه
112 داغزل په اصل کي د(ت) په ردیف کي. ماد(هـ) ردیف ته رانقل کړه.
113 دولت دلته ددنیا په معنا راغلی دئ.
114 کي = کړي
115 که = کا

